
دانترنیټ دفارسی سرچینو څخه
ژباړونکی :عـزیـزاحـمد خـوارمل

# هرالد تریبیون :امریکا د پاکستان دتجزیه کولوپه سوچ کې دی !

# (١)

**په دی نږدی ورځوکښې دمنځني اسیادسویلی برخویوه نوي نقشه دپاکستان د امنیتی جګپوړوچارواکولاس ته ورسیدلای دی اودغه نقشه ددی ښکارندوی دی چې امریکا ددی هیواد (پاکستان ) په تجزیه کولوپسی دی .**





پخوانی نقشه بیله بدلون څخه



**دهرالد تریبیون ورځپانی ددی بیان پربنسټ چې په دی ورځوکښې دمنځني اسیا دسویلی برخو یوه نوي نقشه دپاکستان دسیاسی اونظامی چارواکوپه منځ کی لاس پرلاس کیږی اود دی نقشی په هکله یې دول ،دول لړلیدونه یې راپارولي دي اوهمدارنګه په تلویحی توګه سره یې اشوا کړ چې ګواکی امریکا دپاکستان دتجزیه کولوپه سوچ کی دی .**

**راتلوونکی نوي نقشه دبدلون سره**




نوي نقشه وروسته له بدلون څخه

ددی ورځپانی دراپورپربنسټ په دی نقشه کي دپاکستان دهيواد دخاوری په مساحت کي په ښکاره توګه لږوالی رامنځته سوی دی اودافغانستان اودهندوستان دهيوادونوپه مساحت کي زياتوالی او پراختيا رامنځته سويدی . دغه نقشه لمړی ځل دامريکايي نوي بنستپالو(نوي محافظه کارانو) په منځ کي خپورسوی وو اوهمدا اوس دغه باوراوعقيده يي دپاکستانی چاروکاواوخصوصآ ددی هيواد دجګپوړونظامی چاروکو په منځ کي راوستی دی چي امريکا په دی پسی دی چي پاکستان ديوی يوازنی اسلامی هيواد په توګه چي داتومی وسليوخاوند دی تجزيه يي کړی .

پردی سربيره ددی ټولو سره هم دغه ورځپانی په دی هکله په پوره ډول سره توضيحی کړی يي نه دی اونه دي ويلی ،چي دغه نقشه کله اوپه کوم وخت کي اودکوم ارګان دخواڅخه په امريکا کي جوړ سوی دی ،ايا دامريکا دپخوانی پروژی سره دمنځنی ختيځ دنقشی دبدلون سره کومه اړيکه لری اويا بله پروژه ده چي دمنځني اسيا دنقشی بدلون دی .

په داهسی حال کي يوکس دپاکستان د دولت دجګپوړوچاراوکو څخه چي دپاکستان دپلان شووکړنلارو په طرحه کولوکښي مهم رول لری په ټينګار سره وويل : کولای سو چي ووايو ، يوددپروممهوبلالقوه ګواښونو څخه دپاکستان دپاره دهند اوافغانستان نظامی مرستی دي کيدی سی چي دپاکستان دله منځه وړلو دپاره به وی اوممکن امريکا هم په دغه کړنليک کي ددوي سره ملګری ولري . دبله خواڅخه اصف علی زرداری دپاکستان ټاکل سوی جمهور رئيس دهغه وختة څخه چي واک ته رسيدلی دی با وجود ددی هم دوه ځلی دامريکا څخه يي ليدنه کړی اودبوش ددولت په ښه ويلواوتحسين کولويي لاس پوری کړی دی چي د زرداری دغه ډول کړنه هغه يي په پاکستان دننه کي ددپروګوتنيونوسره مخامخ کړی اودامريکا ضد پاکستانيانواودلوتيلوپه منځ کي يي خپل محبوبيت دلاسه ورکړی دی .

د دی محاسبی اوحساب کولوله مخی اوس دغه سوال رامنځته کيږی چي دنوي عصرديپل وعدی دامريکا اوپاکستان په اړيکوکي دباراک اوباما په وسيله دهغه په بيانيوکښي راڅرګنده اوبيان سويدی چي ترکومی اندازی پوری به دعمل جامی ځانته واغوندي .يوامکان به دغه وي چي دامريکالخوابه کوښښونه رامنځته سی چي دپاکستان سيميزی څارنه به لږوالی پيداکړی اوپه سيمه کښي داوسنی مشکلاتودليری کولودپاره په پريکړنده توګه سره دواړه هيوادونه به دګډی ګټي خاونداووسی .

مخته تردی دامریکانظامی قوماندانان دهغه جملی څخه جنرال پترائوس په دی اړه یي په اشاری سره یوڅه ویلی وو چي دافغانستان دمناقشی دپای ته رسولو دپاره یوه مطمینه دحل لاری باید دګاونډیوهیوادونو په ګډون سره مرستی رامنځته سي اودامریکا نوي جمهور رئیس بارک اوباما هم په دی اړه دغه شانته یولړلید لری اودبله خوا څخه په نظرکي لری چي دهندوستان اوپاکستان ترمنځ وډیروپخوانیو ګواښونوته دپای ټکي کښیږدي اوتیر کال دفارين افیزپه خپرونی کي په یوه مقاله کي ودی موضوع ته هم اشاره کړی وو.

اما داهسی رامخته سوی چاري د ټینګ خندونو سره مخامخ دی دهغه جملی نه باید دکشمیر ومسئلـــی ته اود دوو هیوادونـــو تـــرمنځ دهمالیا دسیمی پر ســـر اودپـــولـــی اوسرحــــداتوپرسر واختلافونوته اشاره کیدی سی چي ددوي دغه اختلافونه (۴۰) څلویښت کلنه سابقه لری .اوپه همدی دول سره دغه رامخته کړشوی چاری ددی سبب ګرځیدلی دی چي په وروستیولسیزو کښي دپاکستان نظامی اواطلاعاتي ځواکونه دسیمیزووسلوالوخلکوپه ملاتړسره یي په دغوسیموکښي وحشت،نامنی اونارامی یې رامنځته کړی . دبله خوا څخه په پاکستان کي یوشمیر خلک دامریکا پر رول اونقش باندی دیوه بی طرفه منځ ګړی په توګه سره ناباوره دي .

زبیرخان دکشمیر په مسائلو کښي دیوسیاسی څیرونکی په توګه په دی باور دی چي امریکا دفلسطین په مسئله کښي څه ناڅه بریالی کړنلیک نه لري اوتراوسه پوری چي څوځلی فلسطینیان اواسرائلیان وخبراتروته رابلل سویدی ،اوهیڅ ډول نتیجه یي لاهم نه دی ترلاسه کړی چي همدغسی قضیه به دکشمیر پرسر په مناقشه کي دهند اوپاکستان ترمنځ هم رامنځته سی .

زبیرخان دکشمیردمسلمانانوداعتراضاتو دمسئلی په هکله دهندوستان وواکداروته اشاره کوی او وایی : « که دغسی یو ه کړنه په یوه بله سیمه کښي رامنځته سی امریکایان به ډیرژر هغه یي دمنځنی اسیا درنګین انقلاب په توګه منلی وای،مګر یوداهسی کړنه نه سوه رامنځته .

طلات مسعود دپاکستان دمتقاعیدواوپرکورناست جنرالانودجملی څخه یو نظامی جنرال دی اوپه دی هکله په اشاری سره وایي :که امریکا په دا وروستیو څوکالنوکښي وهند اوچین ته یي ډیرامتیازونه ورکړي دي ،په همدی ډول سره پاکستان هم په افغانستان کي دهند دنفوذزیاتوالی څخه چي په دا وروستیو څومیاشتوکي رامنځته سوی دی په ټینګه سره دغه وضعه څاری اوترخپل څارنی لاندي لري دهغه جملی څخه کولای سو چي په اقتصادی برخه کي دهندوستان پانګه اچونه ، په نظامی برخه کي،دافغانستان دملی اردو وځواکونوته دزدکړی وبهیرته دهندوستان ومرستوته اشاره وکړو.په هر حال نړیوال سیاسی څیرونکی اوکار پوهان په دی باور دي چي په افغانستان کي دامریکایي ځواکونوقوماندان جنرال دیوید مک کیرنان په راتلوونکی میاشت کي واسلام آباد ته ځي اودهغه لیدنه اوکتنه کیدی سی چي نوردېر پیچلي مسائل دامریکا اوپاکستان داړیکوپه اړه به مشخص کـړی اوپه افغانستان کي د(۱۰۰۰) زروتنو هندوستانی سربازانودشتون په هکله وپاکستانی چارواکوته قناعت ورکوونکی ځواب به دځانه سره ولري .

## (۱)دژباړونکی یادداښت :

همدارنګه دغه مطلب ما په یو کردی انټرنیټی سایټ کي هم په بل متن ولوستل چي دمنځني ختیځ دنوي نقشی په هکله په(۲۲-۷-۲۰۰۶)م کال کي خپورسوی وو .

اودنوي منځني ختیځ ترسرلیک لاند ی جورج بوش به تل په خپلو خبرواوشعارونوکښي ویل چي هغه ددغه لاندی متن اودپورتنی نقشی څخه مفهوم اوعبارت دی .لینک یي لاندی لیکلی سویدی .

# دکردستان هیواد دمنځني ختیځ په نوي نقشه کي!

# (۲)

دامریکا دوسلوالوځواکونوخپرونه په یوه مقاله کي دمنځني ختیځ په نقشی کي دبدلون غوښتونکی سواودغه موضوع یي خپورکړ چي دمنځني ختیځ نوي نقشه دی دسیمی دلګه کیو دقومی جوړښتونو پربنسټ دی رامنځته سی .

دترکيی دزمان ورځپانی دامریکا دیولوړرتبه متقاعید افسر«رالف پیترز» چې ددی مقالی لیکوونکی دی ،ددی مقالی پربنسټ لیکی دمنځني ختیځ دنقشی تصحیح کول په سیمه کښې وبی عدالتیو ته به دپای ټکی کښېږدي .
په دی نقشه کې دکردستان هیواد دیو جلا هیواد په توګه دایران ،دعراق ،دترکيي اودسوري دخاوری برخی یې وخان ځانګړی کړی دی اودکردستان هیوادبه دترکيي دبکردسیمی اودځای ځخه بیا دایران تر تبریز پوری واتن ولري .
پیترز په دی معتقد دي چې داهسی یو هیوادبه ،یو امریکایی پلوی هیوادوی اوله دغه ځایه ځخه بیا دبلغاري اوجاپان ترمنځ به وي .
پیترزهمدارنګه وړاندیز یې کړی دی چې په مکه اویا مدینی کې یو ځواکمن اسلامی واتیکان دی جوړاورامنځته سی .
پیترز په منځنی ختیځ کې دبی عدالتیو مهم عامل یې دیوی کردی هیوادنشته والی سرلیک کـــړی دی ا و ویلـــی یې دی چـــې دترکيي دختیځی برخی یو پرپنځمه برخه یې بایدد ترکيي ددولت لخوادښکیلاک سیمی وبلل سی .
پیترزوایي :«دایران اودسوري کردکان به هم دیوی ځانله کردستان هیواد دجوړیدوډپاره به زیار وباسی اوددی مسئلی سره یوځای سی اوهمداسی دنړی ځواکمن هیوادونه دیوجلا کردستان هیواد درامنځته کیدوپه هکله زیار نه ترسره کوي چې ددي هیوادونودغه کړنی دبشری حقونو نقضیدل دی ».
دی وایی :« امریکا پرعراق باندی دیرغل وروسته ډېر ښه فرصت یې دجلاکردستان دهیوادجوړیدلی یې دلاسه ورکړ.»
په دی نوي نقشه کې دعراق هیوادپردرونویوهیوادونو لکه کردستان یوبل عربی اهل تشیع هیواد اویوبل اهل تسنن عربی هیوادباندی تجزیه سوی دی .
په دی نوي نقشه کې داردون هیواد لږ بدلون کړی دی اویولږځه دسعودي عربستان دهیواد وخواته یې پراختیا پیداکړی ده اوخاوره یې ډېره سوی ده .
همدارنګه ایران دخپلی خاوری ډېره برخه به دکردستان ونوي هیوادته ،متحداذربایجان ته ،په عراق کې ونوي اهل تشیع هیواد اوآزادبلوچستان ته دلاسه ورکړي اودافغانستان دخاوری یو ځه سیمه دهرات دولایت دشااوخواځخه ترلاسه کوی .او ایران ددی بدلونونو وروسته په یوپارس هیوادباندی اوړي .

## (۲)دژباړونکی یادداښت :

افغانستان ددی نوي نقشی پربنسټ ترکشمیره پوری پراختیا پیدا کوی اوخپله دلاسه وتلی خاوره ترلاسه کوي .
اودافغانستان دهلمنددولایت دخانشین دولسوالی یوځه خاوره دنوي آزاد بلوچستان په هیواد پوری تړل کیږی چې په دی ولسوالی کې دیورانیوم یو لوی کان (معدن)سته دی چې دتړون پربنسټ به نه افغانستان اونه به آزاد بلوچستان ورنه ګټه ترلاسه کې دابه هغه زبرځواک ګټه ترلاسه کړی اوددی کان خاوند وګرځي چې دا اوس دغه ستر نړیوال کړکیچ یې په سیمه کښې رامنځته کړی دی اودراپورنواوانټرنیټی خبری رسنیو دخپرونوپربنسټ د هلمند په ولایت کې دانګلیس اودامریکا دهیوادونوترمنځ اختلافونه هم پردغه کان باندی رامنځته سویدی ځکه دهلمند پخوانی والی انجینر داودچې دشیرمحمد آخونزاده پرځای ځه موده یې په هلمند کې دولایت چاری ترسره کول دانګلیسی ځواکونو لخوا دهلمند دولایت ځخه دکان ځخه پردغه موضوع باندی چې انګلیسان دیورانیوم یورانیوم یې رایستل ،وایی ده مخالفت یې کول اوبیا تبدیل سو. اوهمدا اوس سربیره پر(۸۰۰۰) اته زره انګلیسی ځواکونوباندی (۲۵۰۰) دوزره پنځه سوه تنه امریکایي سربازان دناټودانګلیسی ځواکونودایساف دځواکونو بیله موافقی نه دهلمند په دی سیمه کښې ځای پرځای سول اودامریکائیانو دغه کړنه دانګلیس پردولت اوپه سیمه کښې دانګلیسی ځواکونو پرقوماندانانو باندی هم ځه منفی اغیزه یې رامنځته کړی اوددوي ترمنځ دغه اختلافونه دانګلیسانوسره ددوی پر یو لړ کړنوباندی هم ،همداسی جریان لري اودسیمی بی ګناه خلک دتولوبهرنی ځواکونولخوا په دومداره

**توګه باند ی ټکهول کیږی اوپه سیمه کښې دغرونواودغونډیوپه شان غمونه اومصیبتونه رامنځته کوي ،نوزما په هاند داټوله بهرنی یرغلګر اوښکیلاکګر ځواکونه دي چې دخپلوجیواستراتیژیکو او جیوپولیټیکوموخواوګټو دپاره اخ اوډب ،کړکیچ اوډول ډول ګواښونه یې زما په ګران هیوادکې رامنځته کړي دي . /**

اخیځلیک ؛

- دخبر اون لین دسایټ څخه
- لطفا په دی سایټ کې هم دغه نقشه په انګلیسی ژبه په یوبل متن کې یې مطالعه کړی .
- http://www.nytimes.com/2008/11/23/world/asia/23pstan.html?_r=1&partner=permalink&exprod=permalink
- http://zamdar.kurdblogger.com/1326